امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۲۹ جدی الی ۴ دلو ۱۴۰۳

## شماره نودو دوم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمیټې IRC ترمنځ د ۱۱,۴۵۶,۲۵۷ امریکایې ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د ژغورنې نړیوالې کمیټې د رئیسې اغلی شرین حسن ابراهیم، د پروګرامونو مسؤل بوستان فهیم، د ارتباطاتو او بشری لاس رسی معاون ضیا الله صدیقی او د اړیکو مسؤل احمدضیا سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۹ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل. ترابي صاحب د ژغورنې نړیوالې کمیټې رئیسې او ورسره مل پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوښ یو، نن یو داسې هوکړه لیک لاسلیک کوو چې په هغه سره زموږ ولس ته نغدی مرستی رسول کیږی او د یادی مؤسیسې د ټول کاری ټیم څخه یې ځانګړې مننه وکړه او وویل چې...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او احساس ټولنیزو خدمتونو خیریه مؤسیسې ترمنځ د ۲۱۸۳۰ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي صاحب د احساس ټولنیزو خدمتونو خیریه مؤسیسې د پروګرامونو د مسؤل محمد اسحاق صافی او مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د UN-OCHA له رئیسی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۱ نیټه په خپل کاری دفتر کې د اوچا له سرپرستی رئیسی سنجانا قاضی، د اوچا مرستیال محمد زید خاطر او...

ادامه در صفحه۴

### سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با رئیس کل جمعیت‌های هلال احمر و صلیب سرخ برای آسیا دیدار کرد



سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، الحاج ملانورالدین ترابی، با الکساندر متیاو، رئیس کل جمعیت‌های هلال احمر و صلیب سرخ برای آسیا بتاریخ ۲۱ رجب سال ۱۴۴۶ دیدار کرد...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ژغورنې نړيوالې کمېټې IRC ترمنځ د ۱۱,۴۵۶,۲۵۷ امریکايي ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د ژغورنې نړیوالې کمېټې د رئیسې اغلی شرین حسن ابراهیم، د پروګرامونو مسؤل بوستان فهیم، د ارتباطاتو او بشرې لاس رسی معاون ضیا الله صدیقی او د اړیکو مسؤل احمدضیا سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۹ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب د ژغورنې نړیوالې کمېټې رئیسې او ورسره مل پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو، نن یو داسې هوکړه لیک لاسلیک کوو چی په هغه سره زموږ ولس ته نغدی مرستی رسول کیږی او د یادی مؤسیسې د ټول کاری ټیم څخه یې ځانګړې مننه وکړه او وویل چی تاسو باید خپل مرستی جاری وساتۍ ترڅو ولس مو د خدماتو څخه برخمن سی او زیاته یې کړل چی ژمنۍ مرستی باید د ژمی په موسم کی وویشل سی تر څو خلک د ژمنی توکو څخه استفاده وکړی او پر وخت د مرستو څخه برخمن سی.

د IRC کمېټې رئیسې اغلی شرین حسن ابراهیم له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې د ټولو کارکونکو څخه مننه وکړل چی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوی او ترڅنګ ئې وویل چی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره باید بیلابیل مؤسیسات او نړیوال سازمانونه بیلابیلی مرستی وکړئ.

د یادونی وړه ده چی یاد هوکړه لیک د ۱۱,۴۵۶,۲۵۷ (یوولس میلونو څلور لکه شپږ پنځوس زره دوه سوه اوه پنځوس) امریکایی ډالرو په ارزښت لاسلیک سو او د دې هوکړه لیک له لورې به په کابل ، بامیان ، لوګر،خوست،پکیتا،هلمند، هرات،بادغیس، کندوز ، ننګرهار، او لغمان ولایتونو کی اړمنو کورنیو ته نغدی پیسې وویشل شی.

① ۱۳,۱۶۰ کورنیو ته د خوراکی توکو لپاره نغدۍ پیسې ویشل کیږې چی هرې کورنۍ ته به د ۸ میاشتو لپاره هره میاشت ۴۰ ډالره یا د هغه معادل افغانی ورکړل شی چې هره کورنی به ټولټال ۳۲۰ ډالره تر لاسه کوې.

② ۵,۱۹۰ کورنیو ته د ژمنۍ توکو لپاره نغدی پیسې ویشل شی چی هرې کورنۍ ته به یو ځل ۳۳۱ امریکایی ډالره یا د هغه معادل افغانی وویشل شی.

③ ۷,۸۱۰ کورنیو ته د لومړنیو اړتیاوو لپاره نغدۍ مرسته وویشل شی چی هرې کورنۍ ته به یو ځل ۳۱۲ امریکایی ډالره یا د هغه معادل افغانی وویشل شی.

په ورستیو کی د دواړو خواوو پر ګډو همکاریو د دوامداره مرستۍ غوښتنه وسوه.

# له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او احساس ټولنیزو خدمتونو خیریه مؤسیسې ترمنځ د ۲۱۸۳۰ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي صاحب د احساس ټولنیزو خدمتونو خیریه مؤسیسې د پروګرامونو د مسؤل محمد اسحاق صافی او مل پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د رجب ۱۹ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.
ترابي صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ د یادې مؤسیسی د راغلی پلاوې څخه مننه وکړه چې اړمنو کورنیو ته د ژمی په رارسیدو سره مرستی رسوی تر څو زیانمنی کورنۍ خپلی اړتیاوی پوره کړی.
همداراز ترابې صاحب زیاته کړل چی ژمنیو مرستو ته دی دوام ورکړی تر څو اړمنی کورنۍ پر وخت د مرستو څخه برخمنی سی.
د احساس ټولنیزو خدمتونو خیریه مؤسیسې د پروګرامونو مسؤل محمداسحاق صافي له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملی ادارې د سرپرست د کارونو او تشویق څخه مننه وکړه او وویل چی موږ به ژر تر ژره یادی مرستی اړمنو کورنیو ته ورسوو ترڅو پر وخت د مرستو څخه برخمن سی.
د یادونی وړ ده چی یاد هوکړه لیک د ۲۱۸۳۰ (یو ویشت زره اته سوه دیرش) امریکاېي ډالرو په ارزښت لاسلیک سوه له مخی به یې په بلخ ولایت کی ۴۵۰ زیانمنو کورنیو ته مرستی وویشل سی.

1— د ۲۰۰ کورنیو لپاره د خوراکی توکو وېشل کیږې چې هری کورنۍ ته د ۳۰ امریکایې ډالرو په ارزښت (۵۰ کیلو ګرامه اوړه او ۵ لیتره غوړی) وویشل شی.

2— د ۱۵۰ کورنیو لپاره د غیر خوراکی توکو وېشل کیږې چې هری کورنۍ ته د ۳۲ امریکایې ډالرو په ارزښت (یوه دانه ۴ کیلوی کمپله، ۵ دانې د غاړې دستمالونه، ۵ جوړې جرابې او ۵ جوړې دستکشې) وویشل شی.

3— د ۱۰۰ کورنیو لپاره د سون توکو وېشل کیږې چې هری کورنۍ ته د ۷۷ امریکایی ډالرو په ارزښت (۲۱۰ کیلو ګرامه د ډبرو سکاره او ساده داخلی بخاری) وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په افغانستان کې د UN-OCHA له رئیسې سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ۱۴۴۶ کال د رجب ۲۱ نیټه په خپل کاری دفتر کې د اوچا له سرپرستی رئیسې سنجانا قاضی، د اوچا مرستیال محمد زید خاطر او د اړیکو دمسؤل شمس خلیلی سره وکتل.

ترابی صاحب د اوچا د دفتر راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چی خوښ یو چی یو د بل سره همکاری کوو او موږ تل هڅی کړی دی چی د بیلابیلو سازمانونو او مؤسیسو کارونه په چټکۍ سره خلاص کړو تر څو خلګو ته پر وخت مرسته ورسول سی او موږ په خپل اداره کی پوره شفافیت راوستلې دي او خپل کارونه مو ګړندی کړی دی. نوموړی زیاته کړه چې دا اداره له ټولو مرستندویه ادارو سره له هرې ممکنه لارې همکاری او ملاتړ کوی.

ورسته د اوچا د دفتر رئیسی سنجانا قاضی وویل چی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې په کارونو کې چټکتیا روښانه ده او موږ له تاسوڅخه مننه کوو چی کارونه مو په چټکۍ روان کړی دي. اغلی همدارنګه څرګنده کړه چې د تېرو کلونو په پرتله به په راتلونکی کال کې د پېښو د مدیریت او بشرې مرستو په برخه کې ډېره پاملرنه وشی.

هغوی وویل چې تیر کال موږ په افغانستان کی ۳ میلیارده ډالره په بشری مرستو او د اساسی اړتیاوو په برخه کی مصرف کړی دی او سږکال مو د ۲.۴ میلیارده ډالرو غوښتنه کړې ده چی تر وسه مو ۸۳ میلونه ډالره ترلاسه کړی دی.

په ورسیتو کی د دواړو لورو لخوا ژمنه وسوه چې په ګډه به هغه ستونزی له منځه وړو چی خنډونه یې رامنځته کړی دی.

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با رئیس کل جمعیت‌های هلال احمر و صلیب سرخ برای آسیا دیدار کرد



سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، الحاج ملانورالدین ترابی، با الکساندر متیاو، رئیس کل جمعیت‌های هلال احمر و صلیب سرخ برای آسیا بتاریخ ۲۱ رجب سال ۱۴۴۶ دیدار کرد.

ترابی صاحب ابتدا در مورد دستاوردها و مشکلات اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث بحث و گفتگو کرد و اشاره نمود که در افغانستان شمار زیادی از مردم با فقر و تنگدستی روبرو هستند و به کمک‌های فوری نیاز دارند.

همچنین ترابی صاحب افزود که در ولایت‌ها نیاز به گدام‌های معیاری وجود دارد و مردم به کمک‌های غذایی و غیرغذایی نیازمند هستند.

سپس آقای الکس زندر از سرپرست این اداره تشکر کرد که همواره تلاش‌ها و همکاری‌های زیادی در بخش کمک‌های بشردوستانه داشته و به خانواده‌های آسیب‌دیده کمک رسانده است.

او اضافه کرد که ما همکاری‌های کامل خود را با این اداره ادامه خواهیم داد تا بتوانیم به طور مشترک مدیریت حوادث و رفع نیازهای اساسی مردم را به سرعت انجام دهیم.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵،۷۷۵،۰۰۰ افغانۍ ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د اکشن ایډ مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالی ملاتړ، د کابل ولایت په بګرامۍ ولسوالۍ کې ۵۰۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

د مرستو په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۱،۵۵۰ افغانۍ او ټولټال ۵،۷۷۵،۰۰۰ (۵ میلیونه او ۷۷۵ زره) افغانۍ نغدی پیسې یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.

د یادونې وړده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له یاد ریاست او مؤسسې څخه مننه او خوښی څرګنده کړه او په راتلونکی کې یې د لا زیاتو مرستو غوښتنه وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار به ۳۴ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه DRC امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی مؤسسه متذکره، به ۳۴ خانواده آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در ولسوالی سپین‌غر آن ولایت برای ترمیم خانه هایشان مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این روند، بعد از سروی و در حضور مسئولان، به ۲۱ خانواده هر یک ۲۱،۱۵۰ افغانی و به ۱۳ خانواده دیگر هر یک ۲۷،۲۵۰ افغانی توزیع شد که در مجموع ۷۹۸،۴۰۰ (۷۹۸هزارو ۴۰۰) افغانی به این خانواده‌ها توزیع گردید.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۷۳ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د IRC موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ ۳۷۳ بېوزله کورنیو ته د یاد ولایت په بېلابېلو ناحیو کې نغدی مرستې ووېشلې.
په دې پروګرام کې هرې کورنۍ ته ۲,۸۰۰ افغانۍ او په مجموع کې ۱,۰۴۴,۴۰۰ (۱ میلیون، ۴۴ زره او ۴۰۰) افغانۍ نغدی پیسې یاد شمېر اړمنو کورنیو ته د څلورم قسط په توګه ووېشل شوې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۵ کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، په ناړی او غازی آباد ولسوالیو کې ۱۷۵ سېلاب ځپلو، بېوزله او اړمنو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس الحاج قاری ثابت الله صدیقی او د موسسې د استازی په شتون کې هرې کورنۍ ۱۹,۱۴۰ افغانۍ او ۵ تختې کمپلې ترلاسه کړې، چې په مجموع کې ۳۳۴۹۵۰۰ (۳ میلیونه، ۳۴۹ زره او ۵۰۰) افغانۍ یاد شمېر کورنیو ته ووېشل شوې.
ورته مهال مستحقو کورنیو د مرستو له دغه ګام څخه قدردانی وکړه او د دی ډول پروګرامونو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳ بېځایه شوو کورنیو ته نغدی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري، دDRC او پاملرنې موسسو ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادو موسسو او د WFP او IOM موسسو د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، ۱۳ بېځایه شوو کورنیو ته د یاد ولایت په ناوه ولسوالۍ کې، له سروې وروسته نغدی او غیر خوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د DRC موسسې له لوری هرې کورنۍ ته ۱۳,۰۰۰ افغانۍ او د IOM موسسې له لوری هرې کورنۍ ته کمپلې، د پخلنځی یوه بسته، یوه بسته ژمنۍ البسه، یوه بسته د کار وسایل او سولری څراغونه ووېشل شول.
په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او موسسو څخه مننه او قدردانۍ وکړه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۷۸ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او Arada موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، ددې ولایت په ګوشتی ولسوالۍ کې ۳۷۸ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو دوهم پړاو وو، هرې کورنۍ ته ۲۹۲۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې، چې په ټوله کې دوی ته ۱,۱۰۳,۷۶۰ ( ۱ میلیون، ۱۰۳ زره او ۷۶۰ ) افغانۍ ووېشل شوې.
د یادونې وړ ده، چې دا مرستې له هغو کورنیو سره ترسره شوې کومې چې د تېرو وچکالیو له امله زیانمنې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث زابل برای ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه DRC به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت زابل با حمایت این مؤسسه، برای ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت در ولسوالی دایچوپان کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند، پس از سروی، برای هر خانواده مبلغ ۱۴,۰۰۰ افغانی اختصاص داده شده بود که در مجموع مبلغ ۲,۸۰۰,۰۰۰ (دو میلیون و هشتصد هزار) افغانی به این خانواده‌ها توزیع شد.
قابل یادآوری است که این کمک‌ها به هدف تهیه لوازم زمستانی برای این خانواده‌ها ارائه شده است.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کندز برای ۵۰ خانواده مستحق کمک نقدی کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه اکتید به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث کندز با حمایت موسسه مذکور، برای ۵۰ فامیل مستحق در ولسوالی خان‌آباد کمک‌های نقدی توزیع کرد.
در این روند، پس از سروی، به هر فامیل مستحق، مبلغ ۷۸۹۰ افغانی، توزیع شد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث پروان برای ۲۰۴ خانواده کمک‌های نقدی و زمستانی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان (NAC) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان با همکاری مالی این مؤسسه، برای ۲۰۴ خانواده مستحق و نیازمند در ولسوالی شینواری آن ولایت، پس از سروی، کمک‌های نقدی و زمستانی توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولین محلی، به هر خانواده مبلغ ۲۰,۰۰۰ افغانی و ۵ تخته کمپل اهدا شد و در مجموع، مبلغ ۴,۰۸۰,۰۰۰ (چهار میلیون و هشتاد هزار) افغانی به این خانواده‌ها توزیع شد.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۷۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له Arada او کورډ ایډ موسسو سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، دننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په ګوشته ولسوالی کې ۴۷۵ زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو دویم پړاو وو، هرې کورنۍ ته ۲,۹۲۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې چې ټولټال دوی ته د مسؤلینو په شتون کې، وروسته له سروې ۱,۳۸۷,۰۰۰ ( ۱ میلیون، ۳۸۷ زره ) افغانۍ وویشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې د وچکالۍ له امله زیانمنو شوو کورنیو ته وویشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۳۰۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات (IRC) امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مالی این کمیته، برای ۳۰۰ خانواده آسیب‌دیده در نواحی ۱۱ و ۴ شهر کابل کمک‌های نقدی به منظور تهیه مواد سوخت و لباس‌های زمستانی توزیع نمود.

در این پروسه، بعد از سروی، به هر خانواده مبلغ ۲۸۰۰ افغانی به‌عنوان چهارمین قسط در حضور مسئولین توزیع شد که مجموعاً مبلغ ۸۴۰,۰۰۰(۸ صدو ۴۰ هزار) افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

قابل ذکر است که برای هر خانواده مبلغ ۳۲۰ دالر یا معادل آن به افغانی در ۸ قسط برای این خانواده‌ها توزیع خواهد شد.

در همین حال، دریافت‌کنندگان کمک‌ها ازریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل و کمیته بین‌المللی نجات تشکر کرده و برای بقای نظام اسلامی دعا کردند.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د اکټيډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, یادې موسسې د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ, په دشت ارچی او کلباد ولسوالیو کې ۱۶۰مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍکې د یاد ریاست, د اقتصاد ریاست او د موسسې د استازو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۷۸۹۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز اسعدآباد کې ۱۰ کورنیو ته چې کورونه یې د وروستیو بارانونو له امله ویجاړ شوی وو، له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د پخلنځی یو کېټ، هایجن کېټ، کمپل، سولری کېټ همدارنګه له یادو کورنیو څخه ۲ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی وو، هرې یوې ته ۱ باب خیمه هم ووېشل شوه.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۱۲ خانواده به منظور ترمیم خانه هایشان کمک نقدی توزیع کرد

براساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً توسط اداره ملی مبارزه با حوادث با مؤسسه DRC به امضا رسیده بود، ریاست مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۱۱۲ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب و نیازمند در ولسوالی سرخرود کمک نقدی به منظور ترمیم خانه هایشان توزیع نمود.

این کمک‌ها که به عنوان قسط اول با حضور مسئولین توزیع شد، برای هر خانواده مبلغی بین ۱۰,۵۰۰ تا ۱۹,۴۰۰ افغانی در نظر گرفته شده بود که در مجموع مبلغ ۱,۶۵۸,۶۰۰ (۱ میلیونو ۶۵۸ هزارو ۶۰۰) افغانی به این خانواده‌ها توزیع گردید.



## کار ساخت یک دیوار استنادی در ولایت کنر تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، کار ساخت یک دیوار استنادی به طول ۱۹۸ متر را در منطقه دونیاہی ولسوالی سرکانو آن ولایت، با هزینه ۳,۳۰۰,۰۰۰ (سه میلیون و سیصد هزار) افغانی، تکمیل و آن را به بهره‌برداری سپرد.
رئیس دفتر مقام ولایت کنر، مولوی امین‌الله حق‌پرست، در برنامه افتتاح این پروژه از تلاش‌های اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث قدردانی کرده و گفت که مسئولین امارت اسلامی افغانستان همواره برای رسیدگی به مشکلات مردم تلاش می‌کنند و در آینده نیز پروژه‌های مشابهی را اجرا خواهند کرد.
همچنین، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، قاری ثابت‌الله صدیقی، گفت که با ساخت این دیوار استنادی، ۱۸۰۰ خانواده از خطر سیلاب‌ها مصون شده‌اند و در سایر مناطق ولایت کنر نیز برنامه‌هایی برای اجرای چنین پروژه‌هایی وجود دارد.
در همین حال، باشندگان محل از آن ریاست تشکر کرده و گفتند که در زمان بارندگی‌ها همواره با تهدید سیلاب مواجه بودند، اما اکنون با ساخت این دیوار استنادی احساس آرامش می‌کنند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۸۰ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد



به اساس تفاهم‌نامه که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه اکتید امضا شده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار، برای ۸۰ خانواده مستحق در ولسوالی چاه‌آب، بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع نمود.
در این پروسه به هر خانواده مبلغ ۷۸۹۰ افغانی در حضور مسوولان توزیع شد که در مجموع مبلغ ۶۳۱,۲۰۰ (۶صدو ۳۱ هزارو ۲۰۰) افغانی اختصاص یافته بود.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۳۰۰ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ, د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ, د کابل ښار اوومې او څلورمې ناحیې اړوند زیانمنو کورنیو ته د سون توکو او ژمنی جامو پېرلو په موخه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د څلورم قسط ۲,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۸٤۰,۰۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده چې یاد شمېر هرې کورنۍ ته به په راتلونکې کې په اته قسطونو کې ټولټال د ۳۲۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شي.

ورته مهال له مرستو برخه منو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې کمېټې څخه مننه او خوښی څرګنده کړه او د اسلامی نظام د بقا لپاره یې دعا وکړه.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۵۰مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او اکټیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په ینګی قلعه ولسوالۍ کې ۵۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۷,۸۹۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۳۹۴,۵۰۰ ( ۳۹۴ زره او ۵۰۰ ) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۵۶۶ زیانمنونکو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د اکشن اېډ موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، د یاد ولایت په مرکز کې ۵۶۶ زیانمنونکو او مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له یادې جملې ۴۱۳ خورا زیانمنونکو کورنیو هرې یوې ته ۲۰,۹۹۰ افغانۍ او ۳ تختې کمپلې، ۹۱ نورو کورنیو هرې یوې ته ۲۰,۲۰۰ افغانۍ او ۶۲ نورو کورنیو هرې یوې ته ۱۴,۷۱۵ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۱۱,۴۱۹,۴۰۰ (۱۱ میلیونه، ۴۱۹ زره او ۴۰۰) افغانۍ د ۵۶۶ کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۳۰۰ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه UN–Habitat به امضا رسیده بود، ریاست آمادگی مبارزه حوادث ولایت کابل با حمایت مالی موسسه متذکره، برای ۳۰۰ خانواده آسیب‌دیده در نواحی ۶، ۱۳ و ۱۷ شهر کابل کمک های نقدی توزیع نمود.

در این پروسه، پس از سروی، به هر خانواده مبلغ ۲۷۴ دالر توزیع شد که در مجموع مبلغ ۸۲,۲۰۰ دالر برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

در همین حال، دریافت‌کنندگان کمک‌ها از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه متذکره تشکر و خوشنودی خود را ابراز کرده و در آینده خواستار دریافت کمک‌های بیشتر شدند.

# د فاریاب ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۱ کورنیو ته نغدی او غیرخوراکی مرستې وویشلې




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ډارټ موسسې ترمنځ د هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د یاد ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې ۴۵۱ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ‌کې له سروې وروسته د یاد ریاست رییس الحاج مولوی اسدالله وقاص په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۰,۱۲۰ افغانۍ او ۵ تختې کمپلې وویشل شوې، چې ټولټال ۹,۰۱۴,۱۳۰ (۹ میلیونه، ۱۴ زره او ۱۳۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰ کسه بندیانو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې



د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ, د یاد ولایت د زندانونو چارو د ریاست له غوښتنې سره سم, ۳۰ ماشومانو بندیانو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې.
د یادونې ده چې د مسؤلینو په شتون کې هر یو بندی ته یوه تخته کمپله او بند خونې ته یو تخته ترپال او د اوبو ۴ سطلونه ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث بدخشان برای ۱۰۰ خانواده نیازمند مساعدت نقدی انجام داد




بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه ACTID، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت این موسسه، برای ۱۰۰ خانواده نیازمند و آسیب‌دیده در ولسوالی یفتل و شهر فیض‌آباد، مرکز آن ولایت مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این روند، برای هر خانواده مبلغ ۷,۸۹۰ افغانی جهت خرید مواد غذایی توزیع شد که مجموعاً مبلغ ۷۸۹,۰۰۰ افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.
همچنین، برای بهره‌مندان این پروژه، یک برنامه آموزشی برگزار شد تا در زمینه شناسایی سو تغذیه و روش‌های درمان آن آگاهی کسب کنند.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰۵ زیانمنو کورنیو ته ژمنۍ مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د OCHR موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, یادې موسسې د AHF دفتر په مالی ملاتړ او د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ, په علینګار او الیشنګ ولسوالیو کې ۲۰۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته ژمنۍ مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ‌ته ۵ تختې کمپلې, د ماشومانو ۵ جاکټونه, ۲ نارینه جاکټونه, ۲ ښځینه ټِکرې, ژمنۍ‌جامې, ۶ جوړه د ماشومانو بوټونه او نور ژمنۍ اړین توکی ووېشل شول.
د یادونې وړ ده چې پر دې سربېره, ۴۱۲ نورو کورنیو ته د یاد ولایت په علینګار او الیشنګ ولسوالیو کې ۲۰۰ ډالر هم هرې کورنۍ‌ته ووېشل شول.

## په پنجشېر ولایت کې ۴۱۸ زیانمنونکو او مستحقو کورنیو ته ۸,۴۱۰,۸۰۰ افغانۍ‌نغدی پیسې او غیرخوراکی مرستې ووېشل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د افغانستان لپاره د ناروې کمېټې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د پنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ او د ملګرو ملتونو د سازمان د بشری مرستو صندوق په مالی ملاتړ، په حصه اول او پریان ولسوالیو کې ۴۱۸ زیانمنونکو اومستحقو کورنیو ته نغدی او غیرنغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۲۰,۱۰۰ افغانۍ نغدی پیسې او ۴ تختې کمپلې ووېشل شوې چې ټولټال ۸,۴۱۰,۸۰۰ (۸ میلیونه, ۴۱۰ زره او ۸۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۸۱ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغونې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې ۱۸۱ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو ځلورم پړاو وو، هرې کورنۍ ته ۲,۸۰۰ افغانۍ ورکړل شوې، چې ټولټال ۵۰۶,۸۰۰ (۵۰۶ زره او ۸۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د یاد شمېر کورنیو لپاره په راتلونکی کې نورې مرستې هم په پلان کې نیول شوې دی.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۰۳ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته بین‌المللی نجات (IRC) امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مالی این کمیته، برای ۲۰۳ خانواده آسیب دیده در نواحی ۳ و ۷ شهر کابل کمک‌های نقدی به منظور تهیه مواد سوخت و لباس‌های زمستانی توزیع نمود.

در این پروسه، بعد از سروی، به هر خانواده مبلغ ۲۸۰۰ افغانی به‌عنوان چهارمین قسط در حضور مسئولین توزیع شد که مجموعاً مبلغ ۵۶۸,۴۰۰(۵ صدو ۶۸ هزارو ۴۰۰) افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

قابل ذکر است که برای هر خانواده مبلغ ۳۲۰ دالر یا معادل آن به افغانی در ۸ قسط برای این خانواده‌ها توزیع خواهد شد.

در همین حال، دریافت‌کنندگان کمک‌ها ازریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل و کمیته بین‌المللی نجات تشکر کرده و برای بقای نظام اسلامی دعا کردند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۴۹۱ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه IRC به امضا رسیده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، برای ۴۹۱ خانواده آسیب‌پذیر در ولسوالی سیغان بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه قسط سوم و چهارم کمک‌ها به هر خانواده مبلغ ۵۶۰۰ افغانی در حضور مسوولان توزیع شد که در مجموع مبلغ ۲,۷۴۹,۶۰۰ (۲ میلیونو ۷۴۹ هزارو ۶۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

گفتنی است که این کمک‌ها برای خانواده‌های متذکره در چهار ماه آینده نیز ادامه خواهد داشت.

## د ننگرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۶۷ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ARADA او کورډ ایډ موسسو ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یادو موسسو سره په همغږۍ د یاد ولایت په ګوشته ولسوالی کې، د وچکالی له امله ۴۶۷ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو دویم پړاو وو، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته ۲,۹۲۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۱,۳۶۳,۶۴۰ (۱ میلیون، ۳۶۳ زره او ۶۴۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۰۰ زیانمنونکو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د CWSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، په یکاولنګ ولسوالۍ کې ۱۱۰۰ زیانمنونکو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

د مرستو د دویم قسط په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۲,۹۴۹ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۳,۲۴۳,۹۰۰ (۳ میلیونه، ۲۴۳ زره او ۹۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې ده چې دا مرستې به د یاد شمېر کورنیو لپاره تر راتلونکو دریو نورو میاشتو هم دوام ومومی.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۸ کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، په کندهار ښار کې د تېرو بارانونو له امله ۲۸ زیانمنو او بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵۰ کیلو وریجې، ۱۲ تختې کمپلې، دوه جوړه څپلۍ، یو پلاستیکی سطل او همدارنګه له یاد شمېر څخه ۲ کورنیو هرې یوې ته ۱ باب خیمه او یوې کورنۍ ته یو ترپال ووېشل شو.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۸۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی اداري او اکتېډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست له یادې موسسې سره په همغږۍ، ددې ولایت په خواجه غوران ولسوالۍ کې، له سروې وروسته ۸۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دغه لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۷,۸۹۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۳۶۱,۲۰۰ افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۹۰۰ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه CWSA به امضا رسیده بود، موسسه متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان، برای ۹۰۰ خانواده آسیب‌پذیر در ولسوالی یکاولنگ۲ بعد از سروی مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه قسط دوم کمک‌ها به هر خانواده مبلغ ۲۹۴۹ افغانی در حضور مسوولان توزیع شد که در مجموع مبلغ ۲,۶۵۴,۱۰۰(۲ میلیونو ۶۵۴ هزارو ۱۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

گفتنی است که این کمک‌ها برای خانواده‌های متذکره در سه‌ماه آینده نیز ادامه خواهد داشت.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۰ اړمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسف سازمان په مالي ملاتړ، د شواک، ګرده څېرۍ او وزې ځدراڼ ولسوالیو اړوند ۲۱۰ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د پخلنځی یو کېټ، هایجن کېټ، بېړنۍ کېټ او یو شمېر نور کېټونه ووېشل شول.

د یادونې وړ ده چې د یاد ریاست د مسؤلینو له لوری له مرستو برخه منو کورنیو ته د اورلګېدنې څخه د مخنیوی، د ګازی بخاریو د خطر او د ماینونو او ناچاوده توکو په اړه پوهاوی هم ورکړل شو.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، ددې ولایت په نېش ولسوالۍ کې، له سروې وروسته ۳۷ د سېلاب له امله زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو دویم پړاو وو، هرې کورنۍ ته له ۱۳,۳۸۰ نه تر ۲۲,۳۲۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ورته ۷۸۳,٤۲۰ ( ۷۸۳ زره او ٤۲۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې ده، چې دې کورنیو ته یادې مرستې د کورونو د ترمیم لپاره ورکړل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۳۰۰ خانواده فقیر کمک نقدی کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه UN-Habitat امضاً شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار به حمایت مالی این موسسه، در ولسوالی سرخ‌رود ولایت ننگرهار، به ۳۰۰ خانواده فقیر کمک‌های نقدی برای رفع نیازهای زمستانی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مقامات، به هر خانواده مبلغ ۲۷۴ دالر توزیع شد که مجموعاً مبلغ ۸۲,۲۰۰ دالر برای این تعداد خانواده اختصاص داده شد.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸ زیانمنو کورنیو ته غیرنغدي مرستې وویشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوالې سازمان (IOM) په مالي همکارۍ، د یاد ولایت په مهترلام ښار او بېلابېلو ولسوالیو کې ۲۸ زیانمنو کورنیو ته غیر نقدي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته یو د پخلنځي کیټ، یو د حفظ الصحې کیټ، د کمپلې یو کیټ او یو سولري څراغ کیټ وویشل شو. همدارنګه، هغو ۶ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، ۶ خیمې ورکړل شوې.
له مرستو برخه منو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کډوالۍنړیوال سازمان له مرستو مننه او خوښي څرګندنه کړه او زیاته یې کړه چې دغه مرستې به د دوی د ژوند په ښه کولو کې مثبت اغېز ولري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث پنجشیر برای ۲۵۰ خانواده آسیب‌پذیر و مستحق مبلغ ۵,۰۲۵۰۰۰ افغانی پول نقد و کمک غیر غذایی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، با همکاری موسسه متذکره و حمایت مالی صندوق کمک‌های بشری سازمان ملل، برای ۲۵۰ خانواده آسیب‌پذیر و مستحق در ولسوالی دره، مساعدت نقدی و غیر نقدی توزیع کرد.
در این روند برای هر خانواده مبلغ ۲۰۱۰۰ افغانی پول نقد و ۴ تخته کمپل توزیع شد، طوریکه مجموع پول کمک شده به مبلغ ۵,۰۲۵۰۰۰ افغانی می‌رسید.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۱ کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک د کډوالو نړیوالې شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې شورا په مالي ملاتړ، د یاد ولایت په چپه دره ولسوالۍ کې د تېرو سېلابونو له امله ۸۱ زیانمنو، بېوزله او اړمنو کورنیو ته نغدي او غیرنغدي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د ژمنۍ اړتیاوو پوره کولو او د سون توکو پېرلو په موخه ۱۹,۷۸۰ افغانۍ او ۵ تختې کمپلې وویشل شوې، چې ټولټال ۱,۶۰۲,۱۸۰ (۱ میلیون، ۶۰۲ زره او ۱۸۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
له مرستو برخه منو د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ډنمارک د کډوالو نړیوالې شورا (DRC) څخه د مرستو په پار مننه او خوښي څرګنده کړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث غزنی برای ۱۴۵ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی و غیرنقدی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث غزنی برای ۱۴۵ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی و غیرنقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه DRC، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی با حمایت مالی دفتر کمک‌های بشردوستانه (BHA) برای ۱۴۵ خانواده آسیب‌دیده از بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر مساعدت نقدی و غیرنقدی توزیع کرد.

در این روند، برای هر خانواده یک بسته کیت صحی توزیع شد و برای ۴۴ خانواده آن، علاوه بر کیت صحی، قسط دوم و سوم مساعدت نقدی به مبلغ ۱۲,۰۰۰ تا ۲۵,۰۰۰ افغانی، متناسب با نوعیت خسارات وارده، توزیع گردید که مجموع بودجه این مساعدت‌ها ۶۶۵,۶۰۰ افغانی بود.

مستفیدین از این مساعدت‌ها ضمن قدردانی از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غزنی و موسسه DRC، خواهان تداوم چنین کمک‌ها شدند.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۴۸۵ زیانمنو کورنیو ته ۱,۳۵۸,۰۰۰ افغانۍ ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې موسسې سره په همغږۍ، ددې ولایت په مقر ولسوالۍ کې ۴۸۵ زیانمنو کورنیو ته وروسته له سروې نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، چې د یادو مرستو څلورم پړاو وو، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې یاد شمېر کورنیو ته ټولټال ۱,۳۵۸,۰۰۰ ( ۱ میلیون او ۳۴۸ زره ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۰۲ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د یاد ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې ۱۰۲ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د څلورم قسط ۲,۸۰۰ افغانۍ د خوراکی توکو پېرلو په موخه ووېشل شوې، چې ټولټال ۲۸۵,۶۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوې وې.

ورته مهال له مرستو برخه منو له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست او IRC موسسې څخه د مرستو په پار مننه او خوښی څرګنده کړه همدارنګه مسؤلینو یادونه وکړه چې په راتلونکې کې د اړمنو لپاره د نورو مرستو پلان هم شتون لری.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۲۳ زیانمنو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او کنسرن موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له یادې موسسې سره په همغږۍ، ددې ولایت په تشکان ولسوالۍ کې ۸۲۳ زیانمنو، بېوزله او راستنېدونکو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، له سروې وروسته هرې کورنۍ ته ۱۹،٤۳۰ افغانۍ او ۳ تختې کمپلې ووېشلې شوې، چې ټولټال یاد شمېر کورنیو ته ۱۵،۹۹۰،۸۹۰ ( ۱۵ میلیونه، ۹۹۰ زره او ۸۹۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ژغورنې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ, د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ, د کابل ښار اوومې او درېیمې ناحیې اړوند ۲۶۰ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د سون توکو او ژمنۍ جامو پېرلو په موخه د څلورم قسط ۲۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې چې ټولټال ۷۲۸۰۰۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.
د یادونې وړ ده چې یاد شمېر هرې کورنۍ ته به په راتلونکې کې په اته قسطونو کې ټولټال د ۳۲۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شی.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۵ زیانمنو کورنیو ته نغدی او غیر نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د DRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې سره په همغږۍ او د بشری مرستو دفتر ( BHA ) په مالی ملاتړ، د غزنی ولایت په ده یک ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۷۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته، نغدی او غیر نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې، چې دیادو مرستو دویم او دریم پړاو وو، هرې کورنۍ ته ۱ بسته روغتیایی کېټ او ۱٤ کورنیو ته په روغتیایی کېټ سربېره له ۱۲،۰۰۰، ۱۳،۵۰۰، ۱۵،۰۰۰، ۱۹،٤۰۰، ۲۰،۰۰۰ نه تر ۲۵،۰۰۰ افغانۍ پیسې نغدې ووېشل شوې، چې ټولټال ورته ۲۷۳،۰۰۰ ( ۲ لکه او ۷۳ زره ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.
د یادونې ده، چې یاد شمېر کورنیو ته دا مرستې د کورونو د جوړولو په موخه ورکړل شوې.